لومړۍ کچه

# د کوچنۍ بيزو ورکې کيلې



**ليکوال:** لانګ لېپسوشياتا
**انځورګر:** يوم کوسال
**ژباړن:** روز لارسېن

THE YALDA HAKIM FOUNDATION
Educate-Empower-Inspire

Smile Please(Pashto), Published by Pratham Books, under a CC BY 4.0 license on StoryWeaver .



کوچنۍ بيزو په يوه غټه ونه کې په يوه کور کې اوسېږي. هغه هيڅکله خپل شيان منظم نه ساتي، نو کور يې ډېر ګډ وډ وي.



یو سهار، د کوچني بیزو غبرګ د هغه د وني کور څخه اوریدل کېده. ”دا چېرته دي؟ “ هغوی تللي دي! زما د کېلو غنچه! چېرته تللي دي؟“



کوچني بیزو له شاتو مچۍ څخه پوښتنه وکړه. ”ای د شاتو مچۍ! آیا تا زما کېلې خوړلي؟“
”بزززا! بزززا! بزززا! زه شِیره او د ګلونو ګرده خورم. زه کېلې نه خورم.“ د شاتو مچۍ په ځواب کې وویل.



کوچني بيزو له مار څخه پوښتنه وکړه، ”ای ماره! آيا تا زما کېلې خوړلې دي؟“
”ششش! ششش! زه ستا د کيلو په هکله هيڅ خبر نه يم. ما ته مزاحمت مه جوړوه!“
مار په خواب کې وويل.



کوچنی بیزو وړی و!

”ما هر ځآی لټولی دی!
داخل او بهر... خو زما
کیلې ورکې دي!“



هغه په مېز او د کټ
لاندې په کتلو سره خپل
تلاش ته ادامه ورکړه.

”لا یې هم نه شم موندلای!
زه خپلې کیلې پیدا کولای نه
شم! “



کوچنی بيزو ډېر غوسه شو.
هغه خپلې پښې وهل پيل کړل
او چيغې يې وهلې ”زه سخت
وږی يم! زما کيلې ورکې دي،
او زه د خوراک لپاره هيڅ نه
لرم!“



کوچني بیزو په ډېره
خواښینۍ سره له خپل
بالکون څخه بهر کتل.

"آه! صبر... هغه د کېلو
پوستکي دي!
۱...۲...۳...۴...دومره
ډېر!"



”اوه! هغه دی سوی! نو
دا سوی دی چې زما کېلې
یې وخوړلې!“



”ای سوی! ته زما کېلې خورې!“ کوچني بيزو چيغه کړه.

”نه، ای کوچني بيزو. زه ستا کېلې نه خورم. هلته وګوره. زه کېلې کرم.“ سوی ځواب ورکړ.



سوی د کوچني بیزو د ونې
بیخ ته راغلو. ”ته ډېر وړی
ښکارې. دا واخله زما د کېلو
یوه غنچه. “ سوی وویل.

کوچنی بیزو خوشحاله
شو. ”ډېره مننه! ډېره
مننه، ای



”زما کېلې نو چا
واخیستلې، چا، چا؟“



ناڅآپه، د کوچني بيزو په ياد شول.

”اوه... اوس مې ياد شول! زه تېره شپه ډېر وږی وم. ما ټولې کېلې خوړلې وې!“

## لارښودونکې پوښتنې

1. ولې کوچنی بیزو غوسه و؟
2. ولې کوچني بیزو فکر کاوه چې سوی د هغه کېلې خوړلي؟
3. د کوچني بیزو کېلې چا خوړلي؟
4. آیا ټول حیوانات ورته (یو ډول) خواړه خوري؟ آیا تاسې د درې داسې حیواناتو په اړه فکر کولای شئ چې داسې خواړه خوري چې له یوه بل سره ډېر توپیر لري؟
5. آیا تاسې د خپلې خوښې کوم شی چېرته بېځایه ایښی دی؟ تاسې د هغه شي د موندلو لپاره څه وکړل؟